# دنيا د مؤمن لپاره زندان او د کافر لپاره جنت دی

له ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دی وايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي: "دنيا د مؤمن لپاره زندان او د کافر لپاره جنت دی".
[صحيح دی] [مسلم روایت کړی دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم خبر ورکوي چې دنيا د مؤمن لپاره لکه د زندان په څېر ده، ځکه چې هغه په شرعي واجباتو پابند دی، په څه چې ورته امر شوی باید عمل پرې وکړي او له څه نه چې منعه شوی باید ويې نه کړي، نو کله چې مړ شي، له دې کړاوونو راحت مومي او هغه تلپاتې نعمتونو ته ځي چې الله تعالی ورته چمتو کړي دي، خو دنيا د کافر لپاره لکه جنت ده، ځکه هغه هر څه کوي چې زړه يې وغواړي او نفس يې ورته امر کوي، خو کله چې مړ شي، د قيامت په ورځ د تل پاتې هغه عذاب سره مخ کېږي چې الله تعالی ورته چمتو کړی دی.



النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee